ابراهیم نعیمی 18/11/10

# د ولسی جرگی ټاکنی او د ولس اندیښنی

غوارم د ولسمشری د ټاکنوڅخه پیل وکړم. د ولسمشری په ټاکنوکی هم ډیری ناری اوسوری پورته وی چی په ټاکنوکی په لوړه کچه درغلی شویدی. د ولسمشر حامد کرزی او د ده د سیال، عبدالله عبدالله، ترمنځ نژدی وه چی دویم رونډوټ اچونه وشی، ولی عبدالله عبدالله په وروستی شیبه کی تر دویم رونډوټ اچونه تیرشو. په دی ټاکنوکی په ښکاره ډول د بهرنیوهیوادونو لاس وهنو جریان درلودی، اوځکه د دی څخه انکار نشی کیدلای چی هیڅ هیواد تیار نه دی چی په وړیا ډول دی خپل سرتیری په پردی جګړه کی تلف کړی. نوهرومرو به د پړی سر د هغه چا په لاس کی وی، چی پوځی حضور یی زیات وی. خو دومره منډی اوترنډی ووهل شوی چی ولس یی په بشپړ ډول ګنګس کړی وه. عجیبه ده چی له یوی خوا د یو باثباته افغانستان سوری وهی، ولی د بل لوری په قصدی ډول هیواد د ناامنی اوبی ثباتی لوری ته ټیل وهی.

هر څومره چی د دومره پیاوړی هیوادو د پوځی شتون سره سره د درغلیو بغاری ووهل شی په همهغه کچه د ولس باور لړیږی او د موجوده نظام مخالفین پیاوړی کیږی. په دغه ټول بهیرکی ناست حکومت، اپوزیشن، ولسی جرګه اوهم بهرنیانو غټ رول ولوباوه. خوهرڅه چی وه، کیسه د ولس د بی باوری سره پای ته ورسیدل. دا ځل بیا نوی شخړه د وزیرانو ټاکل او د باور د رایو لاسته راوړنه وه. هغه هم دهیاهوی سره مل شوی. خو لنډه دا چی په دوه پړاوو کی بیاهم ټولو وزیرانو د باور رایی ترلاسه نکړی. پایله یی دا شوه چی تراوسه هم سرپرست وزیران چاری پرمخ بیایی. چل خو به دا وی چی نوی ولسی جرګه به وټاکل شی اوترټل شوی وزیران به بیاهم چانس پیداکړی. په همدغه بهیرکی ولسمشر د بهرنیانو په سرکی د امریکا دکړنو په بربنډولو پیل وکړی، څو ورځی او میاشتی هم په دغه ناروسورو ولس لګیاه وه، چا داسی اټکل کاوه چی ګواکی ولسمشر د بهرنیانو سره په تفاهم داسی چل کوی او عبدالله خو بیا ویل چی د ولسمشردا کړنه د هیواد په زیان تمامیږی. دا نغاری هم یوڅه وخت وروسته خاموشی شوی، البته څه منډی ووهل شوی، سفرونه وشوه. پایله دا وه چی د لویدیز او د امریکی سره تاریخی دوستی ده او د همیش لپاره دوام کوی. ولس بیا پوه نه شو چی دا د څه لپاره؟

څومودی مخکی د سولی د جرګی خبری تودی وی، ولی هغه کسان چی همیش په دی کیسوکی ښکیل دی تراوږده انتظارو روسته بیاهم ربانی د سولی د جرګی مشر وټاکل شو. او ورسره جوخت د طالبانو دلوړ پوړو چارواکو سره د کابل دسرینا په هوټل کی د خبرو اترو آوازی خپری شوی. کله به رد او کله به بل رنګ ورکړل شو. دا هم تیره شوه، ځانګړ بیپایله معلومه نه شوه.

لویه ننداره د ولسی جرګی ټاکنی دی. په پیل کی د ټاکنو ډیری ځانګی ترلی اعلان شوی اوتر ټاکنو وروسته د درغلیو د شکایتونو بازار تود شو چی تراوسه تریومیلیون زیاتی رایی باطلی اعلان شوی. کیسه دومره کړکیچنه معلومیږی چی ځنی نوماندن او نور اړوند مامورین څارنوالی ته ورپیژندل شوی دی. تیره ورځ د لوی څارنوالی مسئولینو ځان ته دا حق ورکړی چی په دی لړی ځان ورګډ کړی. د بل لوری نه د ناستی ولسی جرګی مشر یونس قانونی هم د لوی څارنوالی د ورګډیدونه اندیښنه لری. داسی آوازی هم شته چی ولسمشرد ټاکنود مستقل کمیسون مشرتهدید کړی دی چی باید د نوموړی پلویان بریالی شی. په همدی ډول داسی خبرونه هم خپاره شوی دی چی د اوبواو بریښنا وزیر(اسمعیل خان) آواز ثبت شوی دی چی د ټاکنو د کمیسیون مسئولین یی تهدید کړی دی چی باید د نوموړی کسان باید بریالی اعلان کړی. ترټولو په زړه پوری خو داده چی د ټاکنو د کمیسیون مشر په واروواړو اعلان کړه چی د دغه درغلیو سره سره بیاهم نه شو کولای چی د ټاکنو مشروعیت تر پوښتنی لاندی راولو.

د بل لوری که ورځنی خبرونه په ژوره وڅیړو، ډول ډول پوښتنی دانسان ذهن ته ورځی. څو ورځی پرله پسی ناکامه نوماندان په کابل او ولایتونو کی لاریونونه کوی اوادعا لری چی ټاکنی مشروعیت نه لری، د بیا ټاکنوغوښتنه کوی. په دی ډله کی د متضادو افکارو خلک د خپل ځانی ګټو لپاره راټول شویدی. د هیواد عالی ګټی د هیچا په ذهن کی هم نه راګرځی. په دی ډله کی داسی کسان شته چی د خپل واک پروخت ډیموکراسی د دوی په کړنوکی نه لیدل کیده هرڅه حتی قضایی ارګانونو هم د دوی په خوښه د خلکو د مرګ اوژوند په اړوند پریکړه کوله. داسی کسان هم ترسترګو کیږی چی دکابل د ښارپه ویرانولو کی لوی لاس درلودی او د خلکو د وژلو اوهم د خلکو د مالونو د چوررولو عاملین وه. که په ټول ډول وڅیړل شی ډیری ګټوونکی او یاهم چی په ټاکنوکی یی وټونه نه دی ګټلی، یوازی د خپلو ځانګړو ځانی ګټو د لاسته راوړولو په تلاښ کی دی. زه فکر نه کوم چی د نړی په بل هیواد کی به داسی د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کړکیچه ډک اوشرمناکه ټاکنی ترسره شوی وی. افسوس چی نوماندان او واکمنان د جګړه ځپلی ولس هڅو ته چی د ټاکنو په بهیرکی یی د خپل ګوتو اوسرونو په پریکولو په دغه شرمناکه ټاکنوکی په میړانه ګډون وکړی، په هیڅ ورته قایل دی. څوک یی د مشروعیت او څوک یی د بی اعتباری ناری سوری وهی. ولس ګنګس دی چی دا څه لوبی جریان لری.

په همدغه بهیر کی وبل لوری ته د افغانستان د سولی د جرګی د فعالیتونو سره موازی د طالبانو سره د پخلاینی خبری د نړی د تفریح په مهم ځای(دایسلنډ مالدیوی)[1] کی پرمخ روانی وی. د ډنمارکی "پولیټکن" ورځپانی په حواله په دی غونډه کی (۴۷) تنو ګډون درلودی چی د دی ډلی څخه دوی تنی ښځی وی. د نوموړی ورځپانی په حواله همایون جریری چی د حزب اسلامی د ګوند د مشرګلبدین حکمتیار زوم دی، د دی غونډی تنظیم کونکی دی. غونډه د سولی او اوربند په اړوند بحثونه وکړه. ولی په زړه پوری داوه چی د طالبانو د استازی او دو(۲) ګډونکو ښځو ترمینځ په لوړ آواز ترخی خبری وشوی د طالبانو استازی ښځی په دی تورنی کړی چی ولی بیله شرعی محرم څخه غونډی ته راغلی اوحتی ورته ویی ویل چی د دوی او دهغه ښځو ترمنځ چی په یوه لنډ نیکرکی ګرځی توپیر نشته. سره د دی چی ښځو ادعا وکړه چی قران شریف لولی د خدای(ج) ټول احکام پرځای کوی...
خبره دا ده چی منډی او ترنډی هر لوری ته په خوځښت کی دی داچی یو په بل سره خبردی که نه؟ نامعلومه کیسه ده، یانی سیاسی تجارت د افغانستان پرمظلوم ولس په لوړه کچه روان دی. د پخوانی شوروی اتحاد د وتلو په وخت کی په مشابه ډول د افغان ولس څخه چا پوښتنه نه کوله همسایه ګانو اوسوپر قوتونو (شوروی او امریکی) زموږ د هیواد پر راتلونکی باندی پریکړی وکړی چی پایله یی موږتراوسه وینو.

یوه خبره غواړم په ټینګه ولیکم چی: هرڅوک، ډله اوګوند چی د هیواد د عالی ګټو، واحد افغانستان او د سولی لپاره په نسبی ډول، بیله ځانی ګټی قدمونه اوچتوی، باید د هیواد منورین یی په لیکنو او عمل کی ملاتړ وکړی. دبیلګی په توګه ولس مشر حامد کرزی په روانه جګړه کی د امریکایانو د ړندو بمباریو څخه په ښکاره سر ټکولی دی، امنیتی خصوصی کمپنی یی و تړلوته وهڅولی، د امریکی د عملیاتو څڅه په کلیو او بانډو کی په کلکه نیوکه وکړه او دایی یوازنی د اختلاف ټکی د دو حکومتونو ترمنځ وباله...
داسی کیسی که د چا په اند مصلحتی هم وی دملاتړ وړدی. دا د ملت آواز اوغوښتنه ده، د هر مشر ترخولی چی دهری موخی لپاره ږغ اوچت شی. لږترلږه خو سوپر طاقتونه زموږ د ولس د مقاومت په علت باندی پوهیدلی شی.
داهم ښکاره ده چی پورته یادی شوی مانوری د شطرنج د لوبی په ډول دی هر سړی اوهیواد خپلی ګټی لټوی. د افغان مظلوم ولس داسی ژور بحر ته ور دننه شوی دی چی د وتلو لاره یی د ډیرو اغزیو ډکه ده. یوازی ملی وحدت، د خپلو ملی ګټو پر شاوخوا بیله هرنوع تبعیض اوتوپیر څخه راټولیدنه د دی لجنزارڅخه د وتلو لار ده. راشی چی د هیواد د عالی ګټو په خاطر ټولی ناخوالی او دښمنی د همدا ګړی لپاره هیری کړو، وروسته کیدای شی کورنی ستونزی د خپلو نیاکانو په څیر په خپل کورکی د خپلو مشرانو د پریکړو له مخی حل کړو. په هرنامه په هیواد کی بغاوت، لاریونونه، پوځی بریدونه، د ځان وژنی حملی... هیواد د بی ثباتی لوری ته ټیل وهی چی دهیڅ افغان په ګټه نه ده.
خدای دی وکړی چی ناست مشران خپلی ستونزی که د بهرنیانو سره یی لری او که یی ترخپلومنځووی ولس ته په رښتینی توګه وړاندی کړی، ترڅو ولس ورباندی باوری شی اوملاتړیی وکړی. د تیرو(۳۰) کالو تجربی وښودل چی بیله خپل ولس څخه هیڅ پردی ترپایه دوست نه دی. ومن الله التوفیق./پای/

ایدیت/نشر : فیضی
faizi@afghan-german.de

[1] - Island(Maldiverne)


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ